# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳٤۷ ګڼه / يکشنبه ۱۸ جماديالثانی ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۰ جدی ۱٤۰۲ هـ.ش / ۳۱ دسامبر ۲۰۲۳ ميلادي


ذبیح الله مجاهد:

## ادعاهای مرکز خبرنگاران افغانستان را تایید نمی کنیم

پس از آنکه مرکز خبرنگاران افغانستان ادعا کرد که در سال جاری ۱۶۸ رویداد نقض حقوق خبرنگاران را در کشور ثبت کرده است، ذبیح الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی ادعای این نهاد را رد کرده است.



ذبیح الله مجاهد، در مصاحبه با تلویزیون ملی افغانستان گفته است «طبعاً تا حالا ادعاهای این نهاد را تایید نمی‌کنیم، ولی شماری از موارد که در سال گذشته پیش آمد، این بود که گاهی وقت تخطی صورت گرفته،... ص۵

مولوي عبدالکبير:

# اسلامي امارت له قومي، ژبني او سمتي توپير پرته ټولو قومونو ته د قدر په سترګه ګوري



د رياست الوزراء سياسي مرستيال محترم مولوي عبدالکبير پرون په سپېدار ماڼۍ کې د پنجشېر او ننګرهار له يو شمېر قومي مشرانو، علمای کرامو او ځوانانو سره ليدنه وکړه.

په دې ليدنه کې د قومونو مشرانو، علماوو او ځوانانو د اسلامي امارت له لاسته راوړنو او سياستونو څخه ستاينه وکړه او ويې ويل؛ حکومت په کمه موده کې ډېر بنيادي کارونه ترسره کړل، چې د ولسونو... ۵مخ

## حماس؛ ۸ خود رو زرهی ارتش صهیونیست را منهدم کردیم



نیروهای گردان های قسام شاخه نظامی حماس اعلام کرده است که ۸ خودروی زرهی ارتش اسرائیل را منهدم کرده اند.

گردان‌های قسام مدعی است که این خود رو های نظامی ارتش اسرائیل با راکت های ضد زره یاسین ۱۰۵ و بمب های «شواظ» در مناطق التفاح و الدرج و شرق کمپ البریج در شهر غزه هدف قرار گرفتند و نابود شدند.

در همین حال اسرائیل اعلام داشته است که سه نظامی دیگر این کشور در جنگ غزه کشته شدند، این نظامیان درست در همان روزی... ص۵

## د نيمروز مرکزي روغتون به ډېر ژر پرانيستل شي



د نيمروز ولايت مرکزي ۳۰۰ بيستريز روغتون د جوړولو چارې ۸۰ سلنې بشپړې شوې او ډېر ژر به ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

د نيمروز والي شيخ محمد قاسم خالد د دې ولايت د مرکزي ۳۰۰ بستريز روغتون د جوړولو له چارو څخه ليدنه کړې.

نوموړي د ياد روغتون د چارو پر لا چټکتيا او کيفيت ټينګار کړی دی.

دغه‌راز د مرکزي روغتون د جوړولو په برخه کې د مرستې ډاډ ورکړی.

ښاغلي خالد همدارنګه ويلي، چې په شل کلنه دوره کې نيمروز ولايت ته هېڅ اساسي کار نه دی شوی او ولسونه يې په خدماتي په ځانګړي ډول روغتيايي برخو کې له ګڼو ستونزو سره مخ دي.

د نيمروز والي ډاډ ورکړی، چې د دې روغتون په پرانيستلو سره به د نيمروز ولسونو روغتيايي ستونزې حل شي.

## د اطلاعاتو او کلتور وزارت د دعوت او ارشاد رياست، د دغه وزارت کارکوونکو لپاره د عقيدتي مسايلو روزنيزه دوره پيل کړه



د اطلاعاتو او کلتور وزارت د دعوت او ارشاد رياست، د خپلو فعاليتونو په دوام، پرون د دغه وزارت د ځوانانو چارو معينيت، د وزارت د مقام دفتر رياست او د کنترول مديريت کارکوونکو لپاره د ديني او عقيدتي مسايلو روزنيزه دوره پيل کړه.

د دعوت او ارشاد رياست د درسونو او روزنيزو دورو د ترسره کولو موخه، د کارکوونکو د ديني ورتياوو لوړول او له ديني، عقيدتي او اخلاقي موضوعاتو سره د هغوی آشنا کول دي.

د باختر آژانس خبريال د خبر له مخې؛ د يادې روزنيزې دورې په پرانيستغونډه کې، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د دعوت او ارشاد رئيس مولوي محمد طيب، د علم پر اهميت او فضيلت او همدا رنګه د دين پر اشاعت او بلاغت خبرې وکړې او ويې ويل: «د الله (ج) هغه بندګان چې د دين .... ۵مخ

## روسیه؛ بیگانگان نباید خواست های شان را بر افغانان تحمیل کنند

نماینده روسیه در سازمان ملل با تاکید گفته است: بیگانگان نباید خواست های شان را بر افغانان تحمیل کنند.

آنا اوستین نیوا؛ معاون نماینده دایم روسیه در سازمان ملل این سخنان را پس از نشست اخیر شورای امنیت آن سازمان بیان داشت که با نام «تعامل با امارت اسلامی و ادغام کامل افغانستان» برگزار شد.

در پایان این نشست قطعنامه‌ای پیشنهادی جاپان و امارت متحده عربی تصویب شد... ص۵

استقبال مردم از ثبت و قانونی شدن موترسایکل های بدون اسناد ص ۲

د ژمي په موسم کې روغتياپالنې ته ډېره پاملرنه وکړئ ۲ مخ

آذان هغه غږ دی چې په نړۍ کې تر نورو ټولو زيات خپرېږي ۴ مخ

سرمقاله

# صبر او استقامت د اقتصادي جوړښت ضامن دي

اشغالګرو ائتلافي پوځي ځواکونو د نظامي ډګر له پرېښودو وروسته په يو داسې پراخ تبليغاتي کمپاين لاس پورې کړی، چې نه يوازې د افغانانو بلکې د ګردې نړۍ پام يې وراړولی دی. ښکاره ده چې د هغوی دا ډول شيطاني پروپاګند پرته له ځينو کره، بااحساسه او ځيرکو مؤمنانو د نن زمانې پر زياترو سست ايمانو او ناپوهو وګړيو حتماً څه اغېزې لرلی شي. دښمن هڅه کوي د نورو تبليغاتو تر څنګ د مسلمانانو پر خلاف د اقتصادي بنديزونو له وسلې هم کار واخلي، څو په دې توګه نړيوالو ته وښيي چې اسلام د انسان د ژونديو چارو د تنظيم لپاره هيڅ کوم پروګرام نه لري. په دې مانا، چې نه د نن زمانې سياست پر مخ بيولی او نه د اقتصادي ننګونو ځواب ويلی شي. مطلب اوسمهال هغوی په يو داسې حيثيت کې دي، چې د ځمکې پر مخ د اسلامي نظام د کوم سمپل د وړاندې کېدو هيڅ زغم نه لري. بلکې يوازې هماغه طاغوتي مذهب (ليبراليزم) پر ګردو نړيوالو جبراً او قهراً تپل غواړي. د همدې مقصد لپاره هغوی بشري توکم ته د نن ورځې ټولې وړپېښې بدمرغۍ فقط له اسلام سره غوټه کوي، څو په دې وسيلې وکولی شي د وخت هغه لاالهانده انسانان چې د خپلې فطري تندې خړوبولو پسې ستړي ستومانه ګرځي. لا هم بې لارې او د اسلام دغې مبارکې رڼا ته ور پرې نږدې او په دې ډول د خپل مشر استاد (ابليس) لپاره څه ملګري او مريدان نور هم ورزيات کړي. حقيقت دا دی، چې د

## در یک هفته ۸۹ هزار تن انتقالات از مسیر های خط آهن صورت گرفته است



هفته گذشته از طریق خط آهن ۸۸ هزار و ۱۲۲ متریک تُن انتقالات صورت گرفته است

دفتر مطبوعاتی اداره خط اهن دیروز با نشر این خبر نگاشته است از این میان ٦٧١١٣ از طریق خط اهن بندر حیرتان، ۳۳٥۷ متریک تن از طریق خط آهن بندر ص۵

## کار ساخت چند پروژه‌ی انکشافی در پغمان خاتمه یافت


وزارت احیا و انکشاف دهات ازپایان کار چند پروژه یی انکشافی درولسوالی پغمان کابل خبرداد.

دفتر مطبوعاتی وزارت احیا و انکشاف دهات امروز با نشر این خبر گفته است : کارساخت (۱۵۵۰) متر دیوار استنادی، جغل اندازی (۲۹۵۰) متر سرک و ساخت شبکه های آبیاری در ولسوالی پغمان ولایت کابل تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

در جریان کار این پروژه ها، برای (۴۵۷) تن کارگر زمینه کار مساعد گردیده و با تکمیل این پروژه ها مشکلات ترانسپورتی باشندگان شماری از قریه های پغمان رفع گردیده و زمینه آبیاری زمین های زراعتی در چهلتن و دره پشه یی مساعد شده است.



## پایان کار حفر ۱۳ حلقه چاه آب آشامیدنی در تخار



وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان از ختم کار حفر وبهره برداری ۱۳ حلقه چاه آب آشامیدنی، در ولایت تخار خبر داد.

دفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان امروز با نشر این خبر گفته است به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت تخار، ص۵

## جهادي خاطرې

# د لړم نه مې زده کړل

**مولوی حیات الله مهاجر فراهی**

فراه رود تودنک ۱۳۹۹/۴/۶ هـ ل
بېگا شپه ۱۱ بجې په کوڅه کې روان وم د موبایل برق مې روښانه کړی و، سترګې مې په یوه لړم ولګېدې چې نسبتاً غټ و، بندونه یې ډېر او ډېره برخه یې توربخونه وه. شاوخوا مې وکتل کومه غټه ډبره مې په سترګو نه شوه. د پښې نه مې بوټ را وایستی او پر لړم مې ګوزار وکړ پر ځمکه مې د لړم څه پاتې شوني ولیدل او په نوره برخه پسې مې څوځلې برق اخوا دېخوا کړ خو په نظر رانغلی. فکر مې وکړ چې ګوزار دې ډېر قوي پرې وکړ، کېدای شي ورې ټوټې شوی وي. پښه مې بوټ ته د ننه کړه، لړم رابانده ګوزار وکړ او پر خچڼه ګوته یې وچیچلم. ژر مې پښه له بوټه بهر کړه. بوټ مې وڅانډو لړم ترې ولوېد.
د دې پېښې نه مې عملاً دا زده کړل (۱) چې کوم څه درته لیکل شوي وي هغه به خامخا درته رسېږي (۲) غلیم تچې څومره کمزوری ګڼې بیا هم خپله پوره امادګي ورته ونیسه (۳) د دښمن چې په هر حالت کې لاس بر شي خپل غچ نه درته پرېږدي.

# استقبال مردم از ثبت و قانونی شدن موترسایکل های بدون اسناد

**داوود ناظری**



تطبیق طرح جمع آوری موترسایکل های بدون نمبرپلیت در سراسر کشور و قانونی شدن اسناد آنان جریان دارد. بر اساس این طرح تمامی موترسایکل ها باید به طورقانونی ثبت و هیچ وسایط بدون نمبرپلیت حق گشت و گذار را ندارد. مسئولان ریاست عمومی ترافیک کشور می‌گویند تا کنون تنها در شهرکابل بیشتر از یک هزار موترسایکل بدون اسناد قانونی جمع آوری و در شهرک پولیس منتقل شده است. تورپالی خیرخواه مدیر پلان و پالیسی ریاست عمومی ترافیک به روزنامه شریعت می گوید هدف از این طرح تامین امنیت در تمام شهر و پس کوچه ها، منظم ساختن شهر، جلوگیری از افزایش سرقت ها و پاسخگو شدن راکبین موترسایکل ها است. به گفته آقای خیرخواه این طرح در سراسر کشور آغاز شده است و برای تمامی موترسایکل ها اسناد قانونی و نمبرپلیت توزیع می شود.
مفتی عبدالمتین قانع سخنگوی وزارت داخله به روز نامه شریعت می گوید قانونی شدن موترسایکل ها نقش مهمی را در تامین امنیت دارد. به گفته ایشان تمامی وسائط نقلیه برای نیروهای امنیتی قابل شناسایی باشد.
جواد یکتن از راکبین موترسایکل ها به روزنامه شریعت می گوید موترسایکل او نمبر پلیت دارد و بدون هیچ نگرانی در تمام نقاط پایتخت گشت و گذار می کند. او می گوید هر کسی که هرگونه وسایط نقلیه را وارد جریان ترافیکی می‌سازد، باید مواظب و مکلف به پاسخگویی باشد. او از این طرح ریاست عمومی ترافیک استقبال می کند.
بسم الله یاوری یکتن از جامعه شناسان به روزنامه شریعت می گوید این طرح در نظم و امن اجتماعی کمک می کند، اما باید سهولت ها در طی مراحل اخذ اسناد به وجود بیاید. تا هم سرگردانی مردم کم شود و هم موترسایکل ها در شهرک خراب نشود. این درحالی است که تا کنون هزاران موترسایکل بدون نمبر پلیت و بیشتر با اسناد گمرکی گشت و گذار می کرد که در صورت بروز حوادث، به راحتی قابل شناسایی نبود و نیست. بسیاری از جرایم نیز با استفاده از موترسایکل صورت می گرفت و مجرمان موفق به فرار میشدند

# د ژمي په موسم کې روغتیاپالنې ته ډېره پاملرنه وکړئ

**شاه محمود درویش**

دایو روښانه واقعیت دی چې په نړۍ کې د هر انسان لپاره د هر څه نه غوره سرمایه روغتیا اوسلامتیا ده او له روغتیا پرته انسان خپلې چارې (که هغه د پاک الله «ج»عبادت دی یا د ورځینو چارو پرمخ وړل دي) په ښه توګه سرته نه شي رسولی، ځکه په خپله روغتیا اوسلامتیا د هوساینې زیږنده ده، نو په دې اړوند ضروري بریښي چې هر انسان باید د خپل ځان، خپلې کورنۍ او د خپلې ټولنې د غړو د روغتیا اوسلامتیا په ساتنه او څارنه کې له ځانګړې پاملرنې کار واخلي.
د یادونې وړ ده چې په هېواد کې د تېرو څه باندې څلورونیمو لسیزو جګړو ټول هېوادوال په جسمي او روحي توګه ځورولي او غمجن کړي او بې شمیره زړه بوګنوونکې غمیزې او ناخوالې یې هم زغملي دي، نو اوس چې د اسلامي امارت په راتلو د خدای(ج) په فضل هېوادوالو ته د یوې هوسا راتلونکې په لور لاره پرانیستل شوې ده، بنآ هر هېوادوال په لومړي قدم کې ددې لیوال دی چې له هره پلوه د یو ډاډمن امنیت درلودونکې شي ترڅو د سولې په ډاډمنه فضا کې یې د روحي او جسمي نا آرامیو لمنه ټوله شي او د هېواد ترقي او پرمختګ ته متې را بډوهي، ددې ترڅنګ دهېواد ټولو ولایتونو په ولسوالیو او لرې پرتو سیمو کې هېوادوال روغتیایي مرکزونو او روغتونونو ته اړتیا لري، ځکه چې په اکثرو سیمو کې د روغتیایي مرکزونو نشتوالي او یا هم لرې واټن ددې سبب کېږي چې د ډول ډول ناروغیو له امله زمونږ ګڼ شمیر هېوادوال خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي او یا هم د روغتیا له پلوه له بې شمیره ستونزو او روحي تکلیفونو سره لاس او ګرېوان شي، البته اوس چې د هېواد په ټولو سیمو کې هوا سړه شوې او لا هم مخ په سړېدو ده. نو بې له شکه چې د کال په دغه ساړه موسم یعنې ژمي کې اکثراً ماشومان د (والګي او زکام) په څېر پر بېلابېلو ناروغیو اخته کېږي، نومیندې، پلرونه او نور خپل خپلوان باید په دغه ساړه موسم کې د خپلو ماشومانو روغتیا ساتنې ته زیاته پاملرنه وکړي او له یخ وهلو څخه دې وژغوري، ځکه چې ماشومان د سړې هوا په مقابل کې زیات مقاومت نه شي کولی،نو په دې اساس ټولو پتمنو هېوادوالو ته اړینه او ضروري بریښي ترڅو په ناروغیو د اخته کېدو د مخنیوي په موخه لاندې ټکي په بشپړه توګه رعایت کړي:
- یعنې خپلو اولادونو ته تودې او ډبلې جامې او خولی ورواغوندي.
- په سړه هوا کې د ماشومانو، او د لوړ عمر لرونکو یعنې بوډاګانو د ګرځیدو راګرځیدو مخنیوی وکړي.
- کله چې په ګرم ځای کې اوسېږي په ناڅاپي ډول سړې هوا ته دې نه راوځي او که چیرې راوځي نوبیاله خپل خولې او پزې څخه باید یو دستمال راتاو کړي.
- هغه کسان چې د شکر ناروغي لري باید خپل لاسونه او پښې له سړې هوا سره له تماس څخه وساتي ترڅو د سړښت له امله تپ پیدا نه کړي.
- د ځان او ماشومانو لاسونه هره ورځ په صابون او ګرمو اوبو ومینځي.
- د هوا په سړښت سره له پنځو کلونو څخه د کم عمر لرونکي ماشومان باید تر بړستنې یا کمپلې لاندې د تودو اوبو د ډکې مشکولې په ایښودلو سره ګرم وساتي.
- خپل لوښي له کارونو یا استفادې څخه دمخه په پوډر ښه ومینځي.
- په خپل سره درمل ونه خورئ،له ډاکتر څخه یې د خوړلو مشوره وغواړي.
- ترخپلې توشکې یا فرش لاندې د نم د مخنیوي لپاره پلاستیک اوار کړئ.
- د خونې تودولو لپاره د ښیښې ترځنګ په پنجره او روشندانونو کې له پلاستیک څخه استفاده وکړئ او یا هم که چېرې کړکۍ موجوده نه وي د هغې ځایونه په پلاستیک وپوښوي.
- د څښاک اوبه په پاک سطل کې وساتئ او د سطل سر هم وپوښوي.
- له سکرو څخه د استفادې پر مهال سکاره له خونې یا خیمې څخه د باندې روښانه کړي تر څو د هغو دود او لوګی په بشپړه توګه له منځه لاړ شي وروسته هغه خونې ته دننه باید راوړل شي.
- که چېرې له صندلۍ څخه استفاده کوئ، خپل ماشومان له صندلۍ له بړستنې د باندې وساتي.
- د خپل ځان یا د کورنۍ د غړو د ناروغي پرمهال نږدې روغتیایي مرکز یا روغتون ته مراجعه وکړي او یا له ډاکتر سره د خپلې ناروغي په اړوند مشوره وکړي.
قدرمنو هېوادوالو! پک الله(ج) دې وکړي چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د سړې هوا په موسم کې پورته غوره او اړین ټکي په بشپړه توګه په پام کې ولرئ، ترڅو هم ستاسو او هم ستاسو د کورنۍ د ټولو غړو روغتیااوسلامتیا خوندي وي او په دې توګه له هوسا او روغ ژوند څخه په اوږدمهال ډول برخمن واوسئ.

# د کمونېزم په ترمینولوژۍ کې د شهید کلمه نشته!

**سمیع الله نهضتیار**

هره مفکوره او یا مذهب او یا دین خپل اصطلاحات لري د هغه اصطلاحاتو څخه ځانګړي تعریفونه او پېژندنې لري دا له امکان وتلي ده چې د کمونیزم پلویان خپلې کړنې او چارې په اسلامي اصطلاحاتو کښې وپوښي ،امکان نلري چې د لنن کبیر لمسیان هغه چې پر شهید،شهادت،جنت ،دوزخ او اخرت باور نلري د هغه خلاف راوتلي وي بیا د ځانونو لپاره همدا کلمات انتخاب کړي په کار خو دا وه چې پرچمي ملګرو لنن او یا تر هغه وروسته ګورباچوف ته او یا کوم بل کبیر ته ویلی وی چې مونږ لکه چې دنورو د قتل عامونو چې شوقیان یو هغومره زمونږ د وژل کېدو هم امکان شته او غواړو د مسلمانانو په څېر مونږ هم د خپلو مړو لپاره کومه اصطلاح ولرو چې ورباندې خپل مړي ونوموو دا چې کمونیزم په هره ساحه کښې فقر پسې اخیستی و د اصطلاحاتو له اړخه هم فقیر دی او ندی توانېدلی چې دا برخه هم بشپړه کړي اوس ئې پاتې شوني ځانونه په اسلامي اصطلاحاتو پسې نښلولي دي دا عقل خو له دوی سره نشته ده چې له ځانونو وپوښتي چې د شهید کلمه په کومه معنی او تعبیر استعمالیږي ؟ ایا د کمونستانو او پرچمیانو د وژل شویو لپاره په دې کلمه کښې ځای شته ؟ او یا ئې د تعریف څخه برخمن کېدلی شي؟ حیران دېته چې له اسلام سره دومره کلکه دښمني لرلو سره بیا هم دوی زمونږ دروازې ته راځغلي او وائي د شهید کلمه مونږ هم کاروو؟ وو ملګریه په اسلامي اصطلاحاتو کښې ستاسی لپاره ځای نشته دی دا به څه وخت زده کوې؟ هغه پرچمیان او کمونستان چې هېواد ئې د دوو کودتاګانو په ترڅ کښې د ناورینونو غېږې ته ورټېل وهلو او لکونه افغانان ئې شهیدان کړل په میلیونونو ئې مهاجر او له خپلو کورونو ایستلو ته اړ کړل ،کلی او کورونه ئې ور وران کړل،سرې لښکرې او وحشیان ئې د هېواد په خاوره پلی کړل ،همدا خلک اوس د دوی په لاس د وژل شوي،مهاجرکړل شوي او ټکول شوي ولس دیني اصطلاحات کارول غواړي؟ کمونستان د له ځانه وپوښتي چې دوی پر کوم لور ځغلي؟ دا جوته ده چې کمونست قاتلانو پورې د اسلامي اصطلاحاتو تړل حماقت دی که کمونستان ډېر د خپلو مړو او ژوندیو لپاره د اصطلاحاتو مینه لری کولی شي په روسي ژبه خپلو مړو ته نوي اصطلاحات ایجاد او رامنځته کړي او خپله تشه وربانډې ډکه کړي.
په درنښت

# کمونېزم او د افغاني کمونستانو جنایتونه

مولوي عبدالهادي مجاهد لومړۍ برخه



کمونېزم پر الحاد ولاړ یو فکري مکتب دی، ماده د هر څه اساس بولي، تاریخ د بشر د طبقاتو تر منځ د جګړې او کشمکش او د اقتصادي عامل پر اساس یې تفسیروي. دغه فکري مکتب په جرمني کې د مارکس او انګلز له لوري رامنځته شو که څه هم چې کمونېزم ته ورته افکار په تاریخ کې پخوا هم په بېلابېلو شکلونو لیدل شوي او کار ورته شوی دی. د مارکس او انګلز افکارو ته بلشویکانو د لېنن په مشرۍ په روسیه کې هغه وخت د عمل جامه وراواغوستله او د هغهو پر اساس یې په روسیه کې نظام او ټولنه جوړه کړه چې کله یې په ۱۹۱۷م کال کې د کمونیست انقلاب د بریالي کېدو په پایله کې د روسي شاهي حکومت له منځه یو ووړ. کمونستانو د زور له لارې نور ولسونه لاندې کړل او د هغوی هېوادونه یې ونیول او د شوروي اتحاد په شکل کې یې یو لوی زورور دولت قائم کړ.

د کمونېزم د فکري مکتب مهم او مشهور شخصیتونه لاندې خلک دي:

۱- (کارل مارکس) د مشهور یهودي حاخام مردخای مارکس لمسی و،چې په ۱۸۱۸م کې زېږېدلی او په ۱۸۸۳م کې مړ شوی دی.

۲- (فردریک انګلز) په ۱۸۲۰م کې زېږېدلی او په۱۸۹۵م کې مړ شوی. انګلز د کمونېزم د فکر په رامنځته کولو او خپرولو کې د مارکس ملګری و او د مارکس د ژوند تر پایه یې د هغه او کورنۍ مصارف ورکول.

۳- (لېنن) چې اصلي نوم یې (ولادېمیر الېچ بولیانوف) و،په ۱۸۷۰م کې زېږېدلی او په ۱۹۲۴م کې مړ شوی دی. لېنن کمونیزم له نظریې څخه تطبیق ته راووېست او د شوروي اتحاد دولت یې رامنځته کړ.

۳- (ستالین) چې اصلي نوم یې (جوزېف وادیونوېچ) و. هغه په ۱۸۷۹م کې زېږېدلی او په ۱۹۵۴م کې مړ شوی. جوزېف ستالین د کمونست ګوند سکرتر او تر لېنن وروسته د شوروي اتحاد مشر شو. ستالین په قساوت، ظلم، استبداد، دېکتاتورۍ او د خپلو مخلفینو په وژلو او شړلو کې نړیوال شهرت ګټلی و.

۴-(تروتسکي) چې حقیقي نوم یې (بروشتاین) د مارکس او لېنن په څېر یهودي الأصل و. هغه په ۱۸۷۸م کې زېږېدلی او په ۱۹۵۴م کې د ستالین په تدبیر ووژل شو. هغه د کمونست ګوند د بهرنیو چارو مسؤول او بیا وروسته د ګوند د چارو مسؤول ټاکل شوی و،چې وروسته بیا له ګوند په خلاف په فعالیت تون شو او ستالین له ګونده وشاړه.

کمونېزم د زور د استعمال، پراخ او مؤثر دعوت او په نړۍ کې د کپیټالېزم په مقابل کې د عکس العمل په ډول په ډېرو لږو کلونو کې د نړۍ په هېوادونو کې خپور شو او په شوروي اتحاد، چین، چکسلواکیا، بلغاریا، شرقي المان، یوګوسلاویا، پولنډ، رومانیا، البانیا، هنګري او کوبا کې یې نظامونه او حکومتونه جوړ کړل او د اسلامي او نورې نړۍ په هېوادونو کې هم احزاب او د مارکسېزم پلوي حکومتونه رامنځته کړل.

د کمونېزم اساسي عقائد او افکار په لاندې ډول وو:

۱- پر مادیاتو ایمان درلودل او له غیبیاتو انکار کول.

۲- انساني تاریخ یوازې د مادې پر اساس تفسیرول.

۳- د دین او دینپالنې له منځه وړل او د الحاد او اباحیت خپرول.

۴- د شخصي ملکیت له منځه وړل.

۵- د کورنۍ نظام له منځه وړل .

۶- د اخلاقو له منځه وړل او په دې نامه ټول هغه بندونه ماتول چې د انسان او د خوند اخیستلو تر منځ مانع ګرځي.

کمونستانو په نړۍ کې له سلو میلیونو زیات خلک ووژل چې په دوی کې تر څلوېښتو میلیونو یوازې مسلمانان وو چې په کریمیا(قرم)، قوقاز، منځنۍ اسیا(غربي ترکستان)، شرقي ترکستان یا ننني د چین (سینک کیانک) البانیا، مصر، عراق، سوریه، اندونېزیا، افغانستان او نورو هېوادونو کې د کمونستو نظامونو او انقلابیانو لخوا ووژل شول.

کمونستانو په نړۍ کې د اسلام او مسلمانو په خلاف په خپله جګړه کې له لاندې تګلارو او اسالیبو کار واخیست:

۱- د موقتي مودې لپاره په دروغو د اسلام په مقابل کې نرم دریځ نیول تر څو د دوی د کمزورۍ په مرحله کې مسلمانان د دوی په خلاف را ونه پارېږي.

۲- د اسلام علماء او متدین مشران بدنامول او هغوی د استعمار او صهیونېزم اجیران ګڼل.

۳- د خپل تسلط په ځایونو کې د تعلیمي نصاب په ټولو مراحلو کې د کمونېزم عقائد په لازمي ډول ور داخلول.

۴- د اسلامي حرکتونو د رامنځته کېدو مخنیوی، د موجودو اسلامپالو په ډېرې بېرحمۍ له منځه وړل، تېښتې ته یې اړ کول او خلک له هغوی متنفر کول.

۵- الحاد پلوو لیکوالو او مفکرینو ته د بیان ټول فرصتونه په لاس ورکول او د هغوی په توسط نویو نسلونو ته دا ورتلقینول چې اسلام نور د منلو او تطبیق وړتیا نه لري او دا چې نور باید مسلمانان د اسلامي احکامو او عقائدو ته د تسلیمېدو پر ځای دې له خپلو عقلونو کار واخلي.

۶- د مسلمانو ولسونو تر منځ د هر ډول اسلامي تړاو له منځه وړل او پر ځای یې د ولسونو تر منځ د کمونېزم تړاو تقویه کول.

۷- په مسلمان مېشتو سیمو کې د مساجدو او دیني مراکزو د بندولو تر څنګ د مسلمانو ټولنو د افرادو په ضمیر کې د عقیده ورانوونکو کیسو، ناولونو، ډرامو، لکچرونو، سیمینارونو، کتابونو، جریدو او نورو نشریو د خپرلو له لارې د اسلامي عقیدې او باورونو له منځه وړل.

۸- ساینس او د هغه اکتشافات د دین په مقابل دروغ او خلکو ته دا ورتلقینول،چې ساینسي موندنې حقائق او دیني باورونه خرافات دي.

۹- اسلامي نصوص له خپل اصلي روح او معنی څخه خالي کول او پر ځای یې د کمونېزم روح او معنی ور اچول.

۱۰- په ډله ییز ډول مسلمانان له منځه وړل او یا یې له خپلو سیمو په زور شړل او په پاشلي ډول یې په نورو سیمو کې پداسې ډول ژوند ته مجبورول چې خپل دیني او قومي هویت ونه لرلی شي او د یو څه وخت له تېرېدلو وروسته په نورو ولسونو کې ور جذب شي.

۱۱- د دیني علماوو وژل او یا یې په شاقه کارونو مصروفول.

۱۲- د شرعي محکمو او قوانینو له منځه وړل او خلک کمونستي محاکمو ته په ورتللو مجبورول.

۱۳- د جسدي تعذیب بېلابېل ډولونه لکه: پر سر مېخ وهل، په اور سوځول، په ټوپک د نښې د پخولو لپاره د هدف په حیث کارول، تر مرګه په زېر زمینیو کې بندیانول، په برقي آلاتو تعذیبول، په دوو مختلف الجهته څرخونو پورې تړل او بندونه یې یو له بله سره جلا کول، د نوکانو وېستل، د بدن د غوښو پرېکول، په سخته یخنۍ او واوره کې لوڅ ساتل، د بندیانو په خولو، پوزو او سترګو کې کیمیاوي مواد اچول او د روحي او جسمي تعذیب په نورو مېتودونو تر هغه وخته ربړول چې د کمونستانو مقصد به ورڅخه حاصل شو.

کمونستانو به نعوذبالله (اِله)، (پیغمبر) او (دین) د ټولنې اپین بلل. له غیبیاتو یې انکار کاوه، له یهودیته پرته نور یې له ټولو دینونو سره دښمني وه او په دې نظر ول چې ملایان او دیني طبقه په دې اپینو خلک بې حسه کوي او د ځان تابع یې ګرځوي.

کمونیزم دانسان د پیدایښت په اړه د (ډاروین) نظریه منلې وه، هغه نظریه چې انسان د الله تعالی مخلوق نه بولي، بلکې پدې نظر دي چې انسان له اوله د اوبو په تل کې د یوجراسم په شکل پروت و، د وخت په تېرېدو سره یې د چنجي شکل ونیو او د سمندر څنډې ته راغی چې دې جرثوم وروسته د بل حیوان شکل ونیو او د ډېرو مراحلو له تېرېدلو وروسته د بیزو شکل اختیار کړ، وروسته د تکامل بل پړاو ته داخل شو او د بیزو شکل یې ونیو او بیا وروسته په چمپانزې بدل شو. چمپانزې چې د بیزوګانو یو ډول دی انسان ته ورته حرکات اجراکوي له څه وخت وروسته یې لکۍ او وېښته توی شول، او د اوسنۍ زمانې انسان تری جوړ شو.

د اروپایي فیلسوف (چارلس ډاروین) د دې نظریې له وړاندې کولو هدف دا و، تر څو هم د مخلوقاتو له خالق څخه انکار وکړي او هم هغه عقیده تکذیب کړي چې انسانان د الله تعالی په قدرت د آدم او حوا له ذاته پیدا شوي،چې د ټولو دینونو هم پر همدې متفقه عقیده ده، او هغه داسې چې آدم علیه السلام د الله تعالی له لوري لومړی خلق شوی انسان دی، له ده یې حوا خلق کړه او بیایې د دوی دواړو له تولد او تناسل څخه د انسانانو لړۍ پیل کړه.

د ډاروین همدا نظریه د (کارل مارکس)، (انګلز) او له هغه وروسته د (لینن) لخوا خپره شوه او هغې ته یې انکشاف ورکړ، تر دې چې دې نظریې په تعلیمي نصابونو کې ځای وموند او د مکتب او پوهنتون شاګردانو ته به د یوې منل شوې عقیدې په حیث تدریس کېده.

تر مارکس او انګلز وروسته د (فردریک نیچه) په نوم بل الماني فیلسوف چې له ۱۸۴۴م تر ۱۹۰۰م یې ژوند کړی راغی، له ټولو ادیانو یې د انکار فلسفه وړاندې کړه او دا نظریه وړاندې کړه،چې نعوذبالله ـ (إله) مړ شو، او اوس انسان په خپله (اِله) دی. که څه هم چې د نیچه د وینا مقصد دا نه وو چې د نړۍ او د ټول عالم خالق مړ شوی، بلکې د هغه مقصد په هغه وخت کې د اروپا په هغو میتافیزیکو (ماوراء طبیعت) باورونو باندې چې اروپایي تدین (إله) ته منسوبول نقد کول وو، خو کمونستانو د هغه له نظریې داسې تفسیر واخیست چې دا انسان د سمندر، غرونو او وچې تر تسخیرولو وروسته تر فضا پورې ټول تسخیر کړي دي او د خپل عقل پوخوالي ته رسېدلې دی، نو د دې پر ځای چې انسان دې د (اله) وجود ته ضرورت ولري نور په خپله د الوهیت مرتبې ته رسېدلی دی. او هغه څوک چې عقلي تکامل ته رسېدلی وي او پخپله (اِله) وي هغه نور (نعوذبالله من ذلک) نه پیغمبر ته ضرورت لري، او نه کوم اسماني کتاب ته.

همدارنګه یې دا نظریه هم وړاندې کړه چې پر انسانانو باندې داسې یوه زمانه راتلونکې ده چې د اوسنیو انسانانو او د هغې زمانې د انسانانو ترمنځ به دومره فرق وي لکه د نننې انسان او پرونۍ بیزو ترمنځ چې و. ده دا ډول انسان د (Super Man) په نامه یاد کړ، هغه چې غرب یې اوس د یوه تصور په توګه مني او په اړه یې ډول ډول خیالي فلمونه جوړوي.

کمونستانو د انسانانو ترمنځ درې شیان ( زر (دارایي)، زور (حکومت)، زن (ښځه) شریک بلل، او دا نظریه یې لرله چې هېڅوک باید په یوازې او شخصي توګه د دې شیانو مالک نه وي، که څه هم چې وروسته بیا کمونستانو په عملي لحاظ په دې نظریاتو کې تر ډېره حده ترمیمکاري وکړه.کمونستانو د دې نظریې د تطبیق لپاره د ټولنې د طبقاتو تر منځ د مساوات راوستلو په مقصد طبقاتي مبارزه لازمي ګڼله. د کارګري انقلاب په نامه یې د ټولنې د بانفوذه خلکو، خانانو، سرمایه دارو او روحانیونو پر ضد مبارزه پیل کړه او هر ځای به یې همدا شعار بدرګه کاوه چې (د نړۍ کارګرانو سره یو شئ). دوی غوښتل تر څو ټیټه او کارګره طبقه راپورته شي، خانان او ملکان، ملا او محراب، قرآن او پیغمبر او ټول ټولنیز او الهي اصول له منځه یوسي، او بیا دې د کارګري انقلاب په نامه د کارګرانو داسې یو نظام رامنځته شي چې پر هر څه حاکمیت ولري او د دوی دولت دې بیا هر څه پر دوی په مساوي توګه مصرفوي. نور به نه خانان خاني کوي او نه به غریب غریب پاتې کېږي. دوی د الله تعالی له دې تقسیمه منکرول چې فرمایي: (أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ (۳۲)) (سورة الزخرف:۳۲).

ژباړه: (آیا دوی ستا د رب رحمت وېشي؟ (داسې نده بلکې) موږ وېشلی په منځ د دوی کې معیشت د دوی په ژوندون لږ کې او پورته کړي مو دې ځینې د دوی پر ځینو نورو مرتبو کې چې ونیسي ځینې د دوی (چې غنیان دي) ځینې نور (چې فقیران دي) تابعان کارکوونکي).

کمونستانو به ویل چې په تاریخ کې چې څومره جګړې تېرې شوې،هېڅ یوه یې هم حق او باطل نه لري، بلکې ټول د مادیاتو د لاسته راوړلو لپاره ترسره شوي دي. که پیغمبرانو د پیغمبرۍ دعواوې کړي،نو هم یوازې او یوازې د دې لپاره یې کړې چې په خلکو کې خپل حیثیت لوړ کړي، شتمنۍ یې قبضه کړي او پر ملتونو خپل حاکمیت قائم کړي. نه ورکې د کفر او اسلام موضوع هدف وه او نه هم د حقپالو او باطل پرستو موضوع، بلکې ټول له یوه سره د ماده پرستۍ پر بنا را منځته شوي دي.

کمونستانو د تاریخ دغه ډول تفسیر ځکه کاوه چې دوی په نړۍ کې له ټولو ارزښتمن شی ماده بلله او پدې نظر وو،چې یوازې باید همدا وپالل شي.

کمونستانو د حرام په نامه کوم څه هم په خپل قاموس کې نه لرل او ټول څه یې حلال ګڼل. دا ځکه چې دوی د (حرام) تصور له ژوند څخه د پوره خوند اخیستلو پر وړاندې خنډ ګاڼه. له همدې امله خو کمونېزم ته اباحیت هم ویل کېږي یعنې هر څه ورکې مباح دي.

کمونیزم د لاتیني communis له لفظ څخه چې د انګلیسي د(Common) یا (universal) په معنی اخیستل شوي چې د عام او شایع معنی لري چې له همدې امله یې په عربي کې (الشیوعیة) بولې او دا ځکه چې هر څه یې د پلویانو ترمنځ خپاره، مشترک او شایع دي. دا نظریات په لومړي ځل د مارکس او د هغه د ملګري انګلز لخوا وړاندې شول او وروسته د لینن لخوا د یوه نظام او حکومت په شکل کې تطبیق شول.

په افغانستان کې د کمونېزم خپرېدل:

شوروي اتحاد د کمونېزم نظریات افغانستان ته هم راصادر کړل، تر څو له دې لارې افغانستان تسخیر کړي، افغانان په خپل کتار کې ودروي، د عربو بحر ته په رسېدو د عربو د تېلو منابعو او نورو اقتصادي اهدافو ته ځان ور نږدې کړي او هم په دې ټوله سیمه کې د غرب د نفوذ مخه ونیسي.

د دې عقائدو له خپرېدلو وروسته په هېواد کې (د افغانستان دېموکراټیک ګوند) په نامه د کمونستانو حزب رامنځته شو. دې ګوند په افغانانو کې د خپلو نظریاتو د خپرولو لپاره جریدې رامنځته کړې چې په هغو کې یوه د نور محمد ترکي د څانګې لخوا د بارق شفیعي په مشرۍ د (خلق) او (بله) د ببرک کارمل د څانګې لخوا د سلیمان لائق په مدیریت د (پرچم) په نامه ونومول شوې. له څه وخت وروسته د نور محمد ترکي او ببرک کارمل تر منځ اختلافات رامنځته شول چې د دې ګوند د تقسیمېدو سبب شول. د نور محمد ترکي پلویان د خلق په نامه سره را غونډ شول او د ببرک کارمل پلویان د پرچم په نامه، خو دواړو ډلو به په رسمیاتو کې ځان (حزب دېموکراټیک خلق افغانستان) نوماوه.

دوی د ظاهر شاه د حاکمیت په وخت کې په ښکاره په فعالیت پیل وکړ. په افغاني مکاتبو، لېسو او تعلیمي مراکزو کې یې فعالیتونه پیل کړل او د ځان لپاره د پلویانو د روزلو په مقصد یې تقریباً په ټول افغانستان کې فکري او تربیوي حلقې تأسیس کړې. دوی په دې فعالیتونو او حلقو کې د کمونستو ادیبانو، فیلسوفانو، لیکوالو او سیاسي رهبرانونو په تېره د لینن فکري ادبیات او کتابونه تدریسول، روسي او کمونستي ناولونه، مقالې، فلسفه، عقاید او کتابونه به یې ژباړل او بیا به یې د خپلو پلویانو په واک کې ورکول. **ادامه دارد...**

# شعر و ادب

## غزل

**ریحان**

د ورکو قافلو د قدم لوری شې وطنه
د تورې شپې په زړه کې لکه ستوری شې وطنه

غرور ته دې پامیر او هندوکش په سلام اوسه
خاوند دې چیرته نه کړي چې کوز ګوری شې وطنه

له جنګه لالهانده ارواح ستا په مټ اوده ورم
د امن تر منزله مې تګلوری شې وطنه

غاټول غاټول ځواني یې د پردېس اهاړ سوځلې
د تږیو مسافرو د سر سیوری شې وطنه

چې هره ترانه یې ستا د حسن سرنامه وي
په خیال کې د ریحان د غزل توری شې وطنه

## غزل

**شرر ساپی**

ژوند وي که جانان وي که جرګه وي په وطن دې وی
بس که د چا داسې اراده وي په وطن دې وي

تږی دې وم وږی دې وم ای چې خپل اختیار مې وي
سیوری وي، باران وي که غرمه وي په وطن دې وي

شوندې مې وطنه بې له تا په بل څه نه خوځي
ټول عمر دې دغه زمزمه وي په وطن دې وي

ډېرې فیصلې مو تجربه کړلې په بل وطن
نوره نو که هره فیصله وي په وطن دې وي

شین مې دې په قبر وي د خپلې خاورې شین بوټي
مرګ وي، که ډولۍ که جنازه وي په وطن دې وي

## غزل

**همت کوچی**

لا دردونه شته لا ځړیکې د پرهر شته
لا مې هېر نه یې یادونه دې اکثر شته

اوس مې هم زړګی دا نه مني چې مړ یې
اوس مې هم دې تا په بیا راتلو باور شته

ځواني شته ده خو مستي زړونو کې نشته
کنه کلی شته چنار شته دی ګدر شته

زه د ژوند سختو ته نه وار خطاء کېږم
لا مې پلار شته لا مې سپر د هر خطر شته

چې همت کوچی تر اوسه لا ژوندی دی
د د مورکۍ د دعاء سیوری یې پر سر شته

# آذان هغه غږ دی
